ليکونکی: ايرک مارګوليس(Eric Margolis).

سرچيني اودخپريدو نيټه: ګلوبال ريسيرچ«۲۰۱۳-۱۲-۹».

ژباړونکی : پوهندوی دوکتور سيدحسام «مل».

--------------------------------------------------------------------------



# له افغانستان څخه ساختګي را وتنه

## The Phony Pullout From Afghanistan

دهغو کسا نو دپا ره چي دافغانستا ن دراتلونکي په برخه ليک باندی يو څه پوه شي اوهغه داچي اشغالګر قوتونه دافغانستان د پاره پخپلو ګدامونو کی څه شی زيرمه کړی دي ، ددی ضرورت ليدل کيږی چي هغوی پر عراق باندي د بريتانيا دامپراتوری د (۱۹۲۰)کال دتسلط اود واکمنی دوری يازمان ته نظر واچوی او يو څه ځان ځيرکړي ، لکه هغسی چی نامتو ليکوال شکيسپير په دی اړه داسی وليکل «دادتيرو وختونو سريزه دی» يا په دری عبارت سره اين « مقدمه ای به ګذشته » است .

د بريتا نيا سلطنتی دولت دلمړی نړيوال جګړی په پای کی دبين النهرين دطبعی زيرمو د خوندی سا تلو د پاره کوم چی د بريتانيا د شاهی دولت د سمندری قوتونود پاره ضروری اوحياتی ګڼل کيدل دعراق په نوم په مصنوعی بنی سره يوه لاس ناستی هيواد يا دولت دهغه ځای د خلکو د پاخون د مخنيوی دپاره ايجاد کړ اوددی دولت په سر کی يو فرما نبردار ټولواک د فيصل په نوم کيښنول اودعراق د بومی اود اصلی ميشتو خلکو څخه يوه اردو يا نظامی لښکر رامينځته کړ کوم چی دغه اردوخپل دندی دبريتانيا د افسرانو اود قوماندانانو تر رهبری لاندی تر سره کول .

په کال(۱۹۳۰) کی دهغه تړون يا پيمان په ترڅ کی چي د عراق اود انګليس يعنی دلاس ناستی نوکرپاچا اودهغه داربا ب يانګليس ترمينځ لاس ليک شودبريتانيا استعماری

شاهی دولت ته رسمیت ور وبخښل چي پرعراق باندی بی له کوم خنډ حکم وچلوی .
اما په عراق کي اصلی قوت اوځواک د بریتانیا دشاهی دولت د هوایی قوت په لاس کی وه اودعراق په حبانیه (Habbaniyah) او بصره (Basre) کی اډی درلود اوبی له کوم قید وشرط پر عراق باندی خپل تسلط چلول .
وینستون چرچل دجګړی حا می اوملاتړ لکه ننی محا فظه کا ر ډلی ټېلي په ځیر دبریتانیا هوایی ځواک ته سپاریښتنه کړی وه چی دعراق اودافغانستان پرسرکشو قبایلو باندي کولای شی چي سمی ګاز پکار ویسي ، دیا دونی بل وړ مطلب دادی چي بریتانیا په عراق کی ځنی نها د ونه او ځنی شرمیدلی ګوندونه بی دخلکو له غوښتنی اوارادی څخه یواځی د بریتانیا د منفوراو استعماری دولت د اهدافو دپلي کولو دپاره ایجاد کړ.
دانګلیس – عراق تړون د ننی افغانستان د پا ره کیدای شی چي دیو مقد می یا دیو سریزی په توګه اونګرل شي یا په نظر کی ونیول شي. د بریتا نیا دامپراتوری ځای ناستي دا دامریکي امپریالیسم دي کوم چي غواړی په افغانستان کي دبریتا نیا اودعراق د تړون هغه نسخه یا پلان تکرار کړي .
واشنګټن واي چي مونږ خپل سرتیری او نظامی مبارزین وروسته له (۲۰۱۴)څخه له افغانستا ن با سو ا ما د بلی خوا څخه یادونه کوي چي زمونږ (۱۴۰۰۰ څخه تر ۱۶۰۰۰) سرتیری په افغانستان کی دتروریزم دځپلو اود افغانی سرتیرو دترینګ دپاره باقی پاتی کیږي اوداځکه چی په افغانستان کی اوس دالقاعدی دسازمان غړی له (۵۰) کسو څخه زیات نه تر سترګو کیږی اوزمونږ دغه باقیما نده سرتیری ددی توان لری چی دهغوی سره وجنګیږی اوهغوی له مینځه ویسي .
یا په بل عبارت د زوړ بریتانیاوی سیستم په څیر افغانی اردو اوسرتیری چی دهغو شمیر (۴۰۰۰۰۰) کسو ته به ورسیږی دسپین پوستو افسرانو(امریکایانو اودنوروا‌جنبی افسرانو) تر مشری لاندی دامریکی د( ۵-۴ )ملیارد دالر په کلنی مالی مرستی سره به دهغو استخدام ، ترینګ اونور چاری به ترسره شي .
دغه اجیر اوچوپړ سرتیری یا استخدام شوی نوکران د یانکی (امریکایی) ددالر په بدل کی زړه نیم زړه بی دکوم خاص نظر یا ایدیولوژی په لرلو سره ممکن خپل ورسپارل شوی دندی ترسره کړی.بل مهم مطلب داچی دسی آی ای (CIA) ترمشری لاندی دسړی وژونکی بی پیلوټوالوتکوپوری تړلی (۲۰۰۰۰) عمله فعله یاقوتونه به هم دلته دافغانستان په دننه کی پاتی شی سربیره په پورتني یادشوی قوتونودامریکی دمتحده ایالاتو دځانګړی عملیاتونو دجزوتام پوری تړلي مشترک کوما ندویانو به هم لکه د انګلیسی د ځانګړی اونامی هوایی خدمتونو دکارپوهانو په څیر به خپل دندی دلته په افغانستان کی به تر سره کړي.
له رانیول شوی یا اشغال شوی افغانستان څخه دامریکایی نظامی قوتونو دراوتلو او

د تیښتی لار دافغانستان ددولت اودچارواکوسره دیو امنیتی تړون ضرورت را مینځته کړی چی امریکا یا نو ددغه تړون او د موافقی په لړلو سره غواړی ځا نته د وړو پړی جوړ کړي .( دانګلیس اودعراق د کال «۱۹۳۰» تړون دی ولوستل شی ). هغه لا څه چی تاسی دلته یوه بله معاملی ته ځیر شي کوم چی د لاس پوڅی د ست نشانده اود سړی وژونکی دستګاه تر مینځ دجمهوری ریاست دانتخاباتو موضوع دی کوم چي په هغه کی دمخدره موادو سر دستګان او مشهور قاچاقبران د مخدره موادو د پیسو په لګښت سره ځانونه نومان کړی دي چی په افغانستان کی د جمهوری ریاست په چوکی کی ډډه ولګوی .

پخوانی شوروی اتحاد هم په ورته بڼی سره پر افغانستان باندي وروسته له یرغل او تهاجم لکه دپخواني کهنه کار امپریالیزم په څیر چلن تر سره کړ .

د لته د یا دونی یوه بله مهم ټکي دا دي چی د امریکی د متحده ایالاتو اکثر شرکتونه دامریکی دعا مه خلکو سره د اړیکو دسا تنی لړی دخپل تبلیغاتی پرله پسي ډول وهني سره دافغانستان په اړین ځنی خوشحا لونکی خبری تبلیغول یعنی داچی اوس په افغانستان کی انجنو ښونځیو ته ځی اودافغانستان عامه خلکو روغتیایی تسهیلاتو ته پوره لاسرسي لری اوپه دی توګه دامریکی دعامه خلکو ذهنیتونه د خپل ګټی په لور راجلبول .

لاتراوسه پوری پوره نه ښکاری چی دقبایلو مشران یا حتی دغه تحت الحمایوی افغانی دولت دامریکی دمتحده ایالاتو تر شا ودریږي اوپه دی باندی سترګي پټي کړی چی دمورفین او هیروین دراکړی ورکړی اودتجارت کار وبار د امریکی د متحده ایالاتو تر څارنی اوکنترول لاندی نه ترسره کیږي، اوداځکه چی دامریکي دقوتونو په موجودیت سره سره په نړی کي افغانستان دمخدره موادو(مورفین او هیروین ) یوله لمړی اومخکش صادر کونکي هیوادونو څخه شمیرل کیږي ، داهمیت وړ بل مطلب دادی چي د ملګرو ملتونو د یو منبع په قول سره افغانستان پروسږکال (۵۰٪) نظر نوروکلنو ته زیات مخدره مواد بهر ته صادر کړی او دهغه څخه لاسته راغلی پیسی وروسته د مینځلو ( دتور پیسو سپینولو ) څخه چی د مخدره موادو د معامله کونکوی تر لاسه شوی داهغه پیسی دی کوم چی نن دافغانستان دولت ټول چارواکی او مفسدان ددغه پیسی د ترلاسه کولو دپاره په فساد اوپه رشوت اخیستو سره بخت دی او هم دهمدغی پیسی یوه بله برخه دامریکایانو له خوا د کابل اوسیدونکو ته په یو اویاپه بل نوم سر ه خیرات ورکول کیږی اوامریکایان په دی شان سره غواړي چي دافغان دخلکو پام خپل حا تم طایی ما با نه سخاوتونو ته را جلب کړی اودهمدی کړنی تر سیوری لاندی د مخدره موادو قاچا ق جاری وساتی اودهغه له خرڅلاو څخه میلیونونه ډالر تر لاسه کړي .

لکه دبریتانیا په څیر کوم چي به عراق کی دبریتانیا دسلطنتی د دولت دهوایی ځواک دوه هوایی یا نظامی اډی موجود وه دامریکی متحده ایالات هم غواړی چي په افغانستان کی کم له کمه (۴-۲) اساسی اواصلی اډی یا پایګاه ولری چی د همدی دلیل په نظر

کی نیولو سره دبګرام هوایی ډګر کوم چې اوس دامریکایانو په تصرف کی دی ، داهغه هوایی ډګردی چې د مخکینی شوروی آتحاد په مرسته سره جوړشوی اواوس دامریکایانو د پاره دافغانستان په کنترولولو کی د یومرکزی عصب حیثیت لری او هغه داچې په یوه وچه کی چې هلته ګڼ ځنګل او اونی موجود نه وي هوایي ځواک دهغي وچې په کنترول کی ټاکونکي نقش لرلی شي ، اوپرته له داسی هوایي ډګر که چیری امریکایان هلته تر (۲۴-۷) هوایی کنترولی نقطی هم درلودای ډیر ستونزمن ښکاریده چې نوموړی هیواد یی په بشپړه بڼی سره کنترول کړای واي ، دامریکی هوایی ځواک په نړي کي دهغه هیواد اصلی اوډیر غښتلی قوت جوړوي همدغه دامریکی دمتحده ایالاتو هوایي ځواک دی چې دجنوبی آسیا داسمان په ګزمه وهلو سره خپل ګوډاګی رژیم په کابل کی ساتی اوتر خپل څارنی لاندی نیولي دي دهمدی اصل په نظر کي نیولو سره هند وستان هغه هیواد دی چې د امریکي پواسطه سره د افغانستان د دوامدار اشغال په اړین خپل حمایوی پالیسی ډ یر په احتیاط سره سا تلی او په دی مورد کي ډیر سنجیده ګامونه پورته کوي
دبلی خوا څخه دا یونه انکار منونکی واقیعت دی چې افغانستان دتاریخ په اوږدو کی دامپراتورانو قبرستان پیژندل شوی او په دی هیواد کی دامپریالیستانو داهدافو په مقابل کی دپښتون قوم اوقبایل ډیرستر خنډ منل شوی اودغه واقیعت ټولو ته لکه د لمر په شان روښان دي کوم چې دهمدی واقیعت په نظر کی نیولوسره زه چې تاسو ته دغه مقاله لیکم ددی قوم سره کوم چې ما دوی دروسا نو پواسطه سره دافغانستان د اشغال په وخت په جګړه کی له نژدی څخه لیدلي دی په ریښتیا سره چې دغه قوم ډیر زړه ور اودټینګ ارادی خلک دی اوزه په دی پوره باورلرم چې امریکی د خپل مجهز اومدرن سلاح او جګړیز مهارتونو سره سره بیاهم که چیری دغه قوم پخپل لاس کی د کلاشینکوف ټوپک ولری دامریکي ماتی اوشکست حتمی اوانکار نه منونکی بریښی .
دانګلیس امپرتوری پرافغانستان باندی دتاریخ په اوږدوکی څلور ځلی یرغل ور وړلی اوپه هیڅ بڼی سره نه ده توانید لی چې هلته خپل ګارنیزیون وسا تی ا و په هریو یرغل سره پوره ماتی خوړلی دي داچې اوس دامریکی متحده ایالات د افغانستان د(بیا رغونی ) تر سرخط لاندی په دغه هیواد کی میشته شوی یا دغه هیواد یی اشغال کړی په دی دی ځانه ښه پوه کړی او دانګریزانو دما تی خوړلو تاریخ ته دی هم پام واړوی چې دلته هرومرو د ما تی سره مخامخ کیږي او امریکا یا نو په دی با ندي هم پوهیږی چې دغه روانه جګړه دامریکی د جنګونو په تاریخ کی ډیر اوږد اونامعلوم جګړه دی هغسی یوه جګړه چې د(۱۲) کالو په اوږدو کی تقریباً یوتریلیون دالرپه مصرف ورسیدل ، (۲۰۰۰) امریکایان خپل ژوند دلاسه ورکړل او په حدود د(۱۷۰۰۰) امریکایی اوبا ند نی سرتیری ټپیان شو بی له دی چې کوم ټاکلی بریالیتوب تر لاسه شي .
دویلو یوه بله مهم ټکي دادي اوهغه داچې ، طالبان دپښتون دقوم اودقبایلو یو ایتلافی ځواک دی کوم چې دډیر کلک ارادی اودهوډ خاوندان دي چې د یوی ټوپک په لرلو

سره کولای شي تر هغه وخته پوری وجنګيږي چی ژوندي دی نوپه دی بنیاد امریکایانو به دیوی بلی لیسزی دپاره با ید ډیرو تلفاتو په ورکولو سره وجنګيږی او بیا دهغه په پای کی به مجبورشي چي دخپل ما تی په اړه اعتراف وکړی اوله دی هیوادڅخه پښي سپکي کړي .

دحیرانتیا خبره خوپه دی کی دی چي امریکایان ددغه مطلب په پوهیدو سره نو بیا ولی ټینګار کوی چي با ید دغه هیواد تر خپل ولکی لاندي وساتی ددی سوال ځواب ډیر اسا نه دی اوهغه ددی سیمي دجیوپولیتیک مساله دی کوم چی امریکي غواړی د کسپین د سمند رزیرمو ته لاس رسی پیدا کړی دهغه چا خبره نفت یا تیل دامریکی دمتحده ایالاتو پر سیاستوالو باندی هومره تا ثیر غورځوی لکه چي کټ نیپ ( یوډول نفت دی چی د نعنا یا مینتول بوی لری ) په پیشو (پشک) باندی تاثیر غورځوي .

دامریکی واکداران له دی څخه نشی سترګي پټولي چی د هغوی نظا می قوتونه په افغانستان کی دیو ی با اراده اوزړه ور جنګی مسلح او افغانی پښتون قبایلی ځواک سره په جګړه کی مخامخ دی چی دجګړی په پای کی هرومرو دماتی سره مخامخ کیږي نوکه چیری ددغه وړاندوینو سره بیاهم امریکایان غواړی چی په افغانستان پخپل نوی پرانیستلی اډو یا پایګاه کی پاتي شی او جګړی ته دوام ورکړی نوهرومرو باید هرکا ل تر بیلنونو ډالر په مصرف ورسوی اوپه دی ډول خپل ځان په یو نا معلوم مستقبل سره مصروف وساتي .

دبلی خوا څخه اوس اکثر غربی سیاستمداران نشی کولای چی دخپل رای ورکونکو سره مخامخ وګوری اوپه دي اعتراف ونکړی چی دغه په افغانستان کی روانه جګړه بی له یو کامل احمقانه جګړی څخه بل شی نشی نومیدی، اوداځکه چي په دي جګړه کی تر یو تریلیون ډالر بی دکوم بنکاره لاسته راوړني څخه ددی جګړی په اوږدو کي په مصرف ورسید اوډیرو سرتیرو خپل ژوند دلاسه ورکړل اوډیری نور یی ټپیان او معیوب شو ل او همدارنګه دغه غربی سیاستوالو اوس په دی سترګي نشي پټولی چي طالبانو د سپټمبر د (۹/۱۱) کال (۲۰۰۱) پیښه کی هیڅ دخیل او ککړ نه وه ، لکه چي هسی مخکی ویل کید ل ،اصلی خبره خو دادی چي واقیعت ډیر ترخه دی اوریښتیا ویل هم دیر خطر ناک .

-------------------------------- په درناوي